زکریا پوپل ۲۰۱۳/۰۲/۱۱

# ولي بې اتفاقه يو؟

## او دحل لاري ئې کومې دي؟

څلورمه ( وروستۍ )برخه

### دحل لاري:

په تېرو برخو کي په لنډ ډول زموږ. دډېري ستري ستونزي په هکله او دناکاميو پر اصلي عامل يعني بې اتفاقي خبري وسوې، خودخواهي ته دبې اتفاقی داصلي عامل په توګه ايشاره وسوه او ددې يادونه هم وسوه، چي دخودخواهی ريښې دماشومتوب نه دکوچنيانو په نامه سمه روزنه کي دي او دناسمي روزني دځينو بېلګو يادونه هم په مختصر ډول وسوه.
کله چي اوس داخبره څرګنده سوه، چي زموږ. دبې اتفاقی اصلي ريښه دماشومانو په ناسمه روزنه کي ده،نو په دې برخه کي زه غواړم ددغي ستونزي ( دماشومانو ناسمه روزنه )، چي دبې اتفاقی اصله ريښه هم دلته ده، دحل دلارو چارو او تدابيرو په هکله، په لنډ ډول رڼا واچوم.
ديوه هيوادربنتيني شتمني، دهغه هيواد تر مځکي لاندي طبعي زېرمي، ښکلی طبعت، ارزښتناکه جيو- ستراتېژيک موقعيت نه، بلکي دهغه هيواد خلګ دي . که يو هيواد هيڅ طبعي زېرمي، ښکلی طبعت او ډېر مهم جيوستراتېژيک موقعيت هم ونه لري، خوپوه، هوښيار او سم روزل سوي اويوموټي خلګ ولري، نو هيواد به ئې په اقتصادي، کلتوري، سياسي اوټولنيز لحاظ ډېر غښتلی وي . لکه جاپان، المان، هالنډ، ډبۍ او نور ډېر هيوادونه. خو که ډېري طبعي زېرمي، ښکلی طبعت او ارزښتناکه جيوستراتېژيک موقعيت هم ولري، خو خلګ ئې ناپوه، ناسم روزل سوي او بې اتفاقه وي، نو داطبعي زېرمي، ښکلی طبعت او مهم جيوستراتېژيک موقعيت نه يوازي هيڅ ګټه نسي ورته رسولای،بلکي هغه دوی ته دډېرو ستونزو، جګړواو ورانيو لامل هم کېږي . چي تر ټول ښه بېلګه ئې افغانستان، نايجريا اويوشمېر نور هيوادونه دي .
ځکه نو ديو هيواد ترټولو ستره شتمني دهغه هيواد سم روزل سوي، پوه او يو موټي خلګ دي او بايد تر بل هرڅه ډېره پانګونه دسمو انسانانو په روزنه کي وسي . سمه روزنه تر معارف هم ډېره مهمه ده .
پر انسانانو پانګه اچونه تر ټولو اغېزمنه او ګټوره پانګه اچونه ده، چي دبلي هيڅ برخي سره دپرتلې وړنه ده . چين، هند او جنوبي کوريا ۳۰—— ۴۰ کاله مخکي په جدي ډول دښوني اوروزني برخي ته پاملرنه وکړه او اوس ئې موږ. او تاسو وينو، چي دغه درې واړه هيوادونه په سيمه ايز او نړی وال زبرځواکونو بدل سوي دي .
که زموږ. لپاره انتخاب داوي، چي پيسې په سړکونو، کلينيکونو، کورونو، ښونځيو اونورو تاسيساتو ولګوؤ که دماشومانو په سمه روزنه، نو زما لپاره ځواب دادی، چي تر هرڅه لومړی بايد سم روزل سوي اوپوه انسانان ولرو . که سم روزل سوي اوپوه انسانان ونه لرو، نو داهرڅه چي جوړهم کړو،خودغه ناپوه او ناسالم روزل سوي کسان به هغه په راکټونو، موټر بم، خربم او يا هم انتحاري بم له مېنځه يوسي اوټولي خوارۍ به مو دخاوري سره خاوري کړي . تېري څلور لسيزي ئې ښه ثبوت دی، چي دافغانستان په لسګونه او سلګونه مليارډه دالره شتمني دهمدغو ناسم روزل سوؤ افغانانو لخوا له مېنځه ولاړه، نژدې دوه نيم مليون افغانان دهمدې ناسم روزل سوؤ افغانانو اويا هم دناسم روزل سوؤ افغانانو په ملتيا ووژل سول او دومره هم معيوب او معلول سول .
که ۴۰ کاله مخکي ددغو مليارډونو ډالرو يوه ډېره لږ. برخه دماشوماني سمي روزني ته وقف سوي وای، نو اوس به مو نه يوازي دومره ورانی ويجاړی نه لرلای، بلکي کولای مو سوای د نړی دپرمخ تللو او غښتلو هيوادونو په ډله کي راسو .
ولي هيڅ څوک په المان، هالنډ، انګلستان او يا هم يوبل دغه ډول هيواد کي لاس وهنه نه کوي ؟ داځکه چي ددوی خلګ پوه، سم روزل سوي اوخودخواه نه دي ځکه نو په کورنيو چارو کي ئې لاسوهنه ناشونې سوېده .
که موږ.غواړو چي ددغو ستونزو( ياني بې اتفاقي ) نه، چي دپېړيو راهيسي ورسره لاس او ګرېوان يو، ځانونه خلاص کړو، نو تر هرڅه لومړی بايد موږ. ځانونه دخودخواهی نه خلاص کړو او دخودخواهی نه هغه وخت خلاصېدای سو، چي ماشومان موسم وروزل سي او ډېره پاملرنه دې ته وسي چي مېندي او پلرونه په دې پوه کړل سي، چي خپل ماشومان څنګه داسي و روزي، چي خود خواه، خشن، جګړه مار، بې جرئته او ډارن رالوی نه سي . کله مو چي په ټولنه کي خودخواهي له مېنځه يوړه، نو سمدلاسه ملي وحدت رامېنځ ته کېږي او ددغو ټولوبدمرغيو نه به خلاص سو، چي دپېړيو په اوږدو کي ورسره مخامخ وؤ . دميرويس نيکه، احمدشاه بابا، خوشحال بابا، باچاخان اوزموږ. دنورو مشرانو اروا به ډېره خوشحاله وي چي دادی بچيان مي بالاخره پوه سول او دبې اتفاقی دستري بدمرغۍ نه ئې ځانونه خلاص کړل .
زه ټينګ په دې باور يم، ترڅو چي موږ. خپل ماشومان سم نه وي روزلي، موږ.به هيڅکله هم دبې اتفاقی، خودخواهی، جګړو او دپرديو دلاسوهنو نه خلاص نه سو . که نن وي که سبا دا کار به کوؤ، خو که هر څومره ژر ددغو بدمرغيو نه ځان خلاص کړو، هغومره ډېره او ژر ګټه به مو کړې وي . ځکه نو ښه به داوي، چي همدا اوس دې کار ته ملا وتړو .
که چېري موږ. په دې بريالي سوو، چي ماشومان دسمي روزني دمعاصرو اُصولو سره سم و روزو، نو په دې ډول سره به مو نه يوازي بې اتفاقي دريښې نه له مېنځه وړې وي، بلکي دقومونو، قبيلو، ولايتونو او سيمو تر مېنځ به مو توپيرونه هم له مېنځه وړې وي اوپه دې توګه به بريالي سوي يو، چي ديوه واحدملت په توګه راڅرګند سو .


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ. سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

په نوره نړۍ کي کله چي ديو چاماشوم پيدا کيږي، نو نوي ماشوم ته دتياريو لړۍ لومړی له دې پيلوي، چي دراتلونکي ماشومادپيدا کېدونه مخکي اوپيداکېدونه وروسته دماشوم په هکله کتابونه لولي، ترڅو په دې پوه سي، چي دأُميدواری په وخت کي بايد دمېرمني سره څه ډول چلندوسي او اُميد واري مېرمني دماشوم دپيداکېدونه مخکي او دماشوم دپيداکېدو نه وروسته په لومړيو وختونو کي څه ډول معنوي ملاتړ ته اړتيا لري، مېندي بايد دأُميدواری په وخت کي څه ډول خواړه وخوري، څه ډول کړه وړه وکړي، څه ډول اروايي حالت ولري اودې ته نوري ورتي خبري . په دغوکتابونو کي دغه راز دوی دماشوم دزيږېدونه بياتر دوه کلن کېدوپوري او بيا تر هغه وروسته دماشومانو دکړه وړو او دماشوم سره دچلند او سمي روزني په هکله هم مالومات پيدا کوي .

دماشوم دسمي روزني دستراتېژۍ دترتيبولو په وخت کي ښايي چي لاندي کارونو ته ځانګړې پاملرنه وسي:

په ټوليز ډول ددغي ستراتېژۍ تر ټولو لومړی هدف بايد دماشومانانو په سمه روزنه دمېندو او پلرونو پوهاوی او دماشوم دروزني لپاره مېندو او پلرونو ته دماشوم دسالمي روزني په هکله بشپړه مالومات ورکول وي .

ددې لپاره چي په کورنيو، ښونځيو او دښونځيو نه مخکي ځايونو کي ماشومان څه ډول وروزل سي، بايد دماشومانو دروزني او دماشومانو داروانپوهني دبرخي کورني او بهرني کارپوهانو ته دنده وسپارل سي، چي په دې هکله څېړني وکړي چي اوس دافغانستان په کورنيو، ښونځيونه مخکي ځايونو او ښونځيو کي دماشومانو سره څه ډول چلند کېږي او دهغو پر بنسټ په کورنيو، دښونځيو نه مخکي ځايونو او ښونځيو کي دماشومانو دښې روزني په برخه کي لارښوني وکړي .

دماشومانو دسمي روزني اودماشومانو دسيکالوژۍ په برخه کي دي ډېر شمېر افغان ځوانان بهرنيوهيوادونو ته دلوړو زده کړو لپاره ولېږل سي . دغه راز دافغانستان په دننه کي دي هم دماشومانو دروزني او ماشومانو دسيکالوژۍ په برخه کي دلوړو او منځنيو زده کړو شرايط برابرسي .

لکه څنګه چي په افغانستان کي زياتره مېندي او پلرونه نالوستي دي نو دټلويزيونونو او په ځانګړې توګه دراډيو ګانو له لاري دداسي خپرونو تنظيمول، چي په هغه کي مېندي او پلرونو ته لومړی داوروپوهول سي چي خودخواهي په راتلونکي کي ديوه ماشوم او دهغه دکورنۍ لپاره څومره ډېر زيانونه لري او بيا دا ورزده سي، چي ماشومان څه ډول وروزي، تر څوخودخواه ،خشن، جګړه مار، بې جرئته او ډارن رالوی نسي .

خو دماشومانو په سمه روزنه اوپالنه دمېندو او پلرونو پوهول اسانه کار نه دی . داکار ډېرو منظمو پروګرامونو ته اړتيا لري او يوازي حکومت ددغي دندي تر عهدې نسي وتلای . ددې کار لپاره بايد نخبه ګان، ټول روښانفکران، مدني ټولني او سياسي ګوندونه په ګډه کار او هڅي وکړي.

خو حکومت دادنده لري ،چي ددغو هڅودتنظيمولو او همږغي کولو لپاره ډېر کار وکړي او يا ددغي چاري لپاره يوه اداره جوړه کړي، چي هغه بيا دماشومانودسمي روزني په هدف هراړخيزه ستراتېژي او دقيق پروګرامونه جوړ کړي او دبله پلوه ددغه کارلپاره مالي سرچينې تامين کړي.

ټول ښونکي، په ځانګړي ډول هغه ښونکي چي په وړکتونونو او يا هم ابتدائيه ښونځيو کي ماشومانو ته درس ورکوي، بايد هرومرو ئې دماشومانو داروانپوهني زده کړي کړي وي او ددغو زده کړو سند هم ولري . که چېري دکوم چا په سې وي VC کي دماشومانو داروانپوهني دزده کړو تصديق نه وي، نو هغه نه ښايي دښونکي په توګه وګمارل سي . خوزما منظور دا نه دی، چي همدا نن دي داکار وسي، بلکي ښونکو ته دي دماشومانو داروانپوهني زده کړي ورکړه سي او وروسته له هغه دي دجديت نه کارواخستل سي .

ښونکو ته بايددماشومانو دسمي روزني په موخه ورکشاپونه او سيمينارونه جوړ سي .

دغه راز داروانپوهني دزده کړو او په عمل کي دهغو نه دکار اخستلو په خاطر دي په معاش کي يو ټاکلی مبلغ پيسې زياتي سي .

هرهغه څوک چي دماشومانو داروانپوهني دزده کړوسند ونه لري او يا هم په عمل کي هغه سم پلی نه کړي، نو دغه مبلغ پيسې دي نه ورکول کيږي .

حکومت ته ښايي چي په کورنۍ اوټولنه کي دماشومانوپه وړاندي دخشونت دله مېنځه وړلو او منع کولوپه خاطر يوشمېر قانوني، عدلي او قضايي تدابير ونيسي اودهغوی دپلي کولو لپاره اړين ګامونه پورته کړي.

خوځيني کسان، چي دخپلو ماشومانو سره خشونت کوي کېدای سي ووايي چي دازما خپل ماشوم دی، چي څنګه مي زړه غواړي هغه سي ورسره کوم . خو داخبره سمه نه ده . ځکه چي که يو انسان په خشونت کي رالوی سي نو هغه دخشونت نه پرته بل څه نه وي زده او دنورو خلګو سره هم دخشونت نه پرته بل څه نسي کولای اوبلاخره دغه خشونت ټولني ته هم راوړي او ټول هيواد ترې زيانمن کيږي . ځکه نو دماشوم سره خشونت يوازي دمور او پلار شخصي کار نه دی، بلکي ټولنه او حکومت کولای سي دهغوی (مېندو اوپلرونو ) نه او دغه راز د مسجد دملا او دښونځۍ دښونکونه وغواړي چي د ماشوم په وړاندي خشونت ودروي او ددې کار لپاره ښونيز- روزنيز او جزايي او مکافاتي ګامونه هم پورته کړي .

لکه څنګه چي مور دماشوم په روزنه کي تر ټولوزيات رول لوبوي، نو بايد ډېره هڅه ددې لپاره وسي، چي مېرمني دماشومانو دسالمي روزني په لارو چارو وپوهول اوډېره زياته پاملرنه دې ته وسي، چي ټولو لوستو او نالوستو مېرمنو ته داورزده کړل سي، چي دکومو لارو چارو نه کار واخلي، چي ماشومان ئې خودخواه نه، بلکي سالم او هوښيار وروزل سي.

که دميرويس نيکه مور نازو انا ډېره پوهه، هوښياره او باتدبيره ميرمن نه وای، نوزوی به ئې هيڅکله هم هغه ميرويس خان سوی نه وای، کوم چي زموږ دتاريخ وياړ دی.

که داحمد شاه بابا مور د زرغوني انا په شان يوه پوهه او باتدبيره ښځه نه وای، نو موږ به نه يوازي داحمد شاه بابا غوندي ستر مدبر پاچا او دنوي افغانستان بنسټ ايښودونکی نه وای لرلای، بلکي اوسنی افغانستان به هم نه وای. دا دزرغوني انا هغه سمه روزنه وه، چي داحمد شاه بابا نه ئې ستر شخصيت جوړ کړ. نو که موږ غواړو په راتلونکي کي نور ډېر ميرويس خانه او احمد خانه ولرو، بايد دې ته پاملرنه وکړو، چي نوري نازو انا ګاني او زرغونه اناګاني وروزو. دمېرمنو زده کړو ته ډېره پاملرنه وکړو او دمېرمنو په وړاندي نه يوازي هر ډول تاوتريخوالی له مېنځه يوسوبلکي دښځو سره دمثبت توپير نه هم کار واخلو، تر


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

څو دهغوی دښه ودي او پوهي لپاره ښه شرایط مساعد سي اوپه دې ډول به مودراتلونکو نسلونو دښه روزلو لپاره ښه بنسټ اېښی وي.
دغه راز که موږ غواړو دهیواد نه دخشونت ټغر ټول کړو، نو دکورنه دباندي هم دهیواد په سیاسي او ټولنیز ژوندکي دښځولا زیات ګډون ددې باعث کېږي، چي دشخړو او خشونت کچه تر ډېره را ټیټه سي.
غواړم یو ځل بیا یادونه وکړم، چي داخورا لویه او پېچلې اودپېړیو نه راپاته ستونزه ده اوموږ نسو کولای هغه په یوڅو لنډو کلنو کي سمه کړو . موږ ته ښایي، چي ددغي ستونزي دلېري کولو لپاره دډېر غور او حوصلې نه کار واخلوځکه نو پکارده، چي ددغي ستونزي دهواری لپاره لنډمهاله، مېنځمهاله او اوږدمهاله پالیسي جوړه سي . که موږ ددغي ستونزي دهواری لپاره جدي تصمیم ونیسو، نو موږ کولای سو هغه د۴۰-۲۵ کلنو په لړ کي په بنسټیزه توګه له مېنځه یوسو .
په دغو پالیسیو کي بایدزیاتره پاملرنه لویانو ته وسي، تر څوهغوی دماشومانودسمي روزني په ارزښت اوګټو پوه سي او ددې کارلپاره باید په مطبوعاتو کي، چاپي، ږغیزي او تصویري خپروني وسي او دخودخواهۍ دمهارولو او دماشومانو دسمي روزني لپاره کتابونه او مقالی خپرې سي او هم دنوروپرمختللو هیوادونو دتجربو نه کارواخستل سي . دبېلګي په توګه کېدای سي دهالنډ دهیوادتجربو نه ګټه واخستل سي . دلته خودخواه انسانان نه مکافات کېږي، بلکي مالیدلي دي، چي ډېر خودخواه انسانان هم دلته خورا سم ښوري، ځکه چي پوهېږي چي خودخواهي ئې دلته نه یوازي کار نه ورکوي بلکي زیان هم ورته رسولای سي. خو په افغاني ټولنه کي حالات داسي دي، چي څومره چي ډېر خودخواه واوسې، هومره ډېر امتیازات ترلاسه کولای سې، چي داکار خودخواه انسانان نورهم خودخواهۍ ته هڅوي .
مېندو او پلرونو ته داوښودل سي، چي دماشوم سمه روزنه، په راتلونې کي هم دماشوم لپاره او هم ددوی لپاره څومره ګټوره ده او ناسمه روزنه ئې هم دماشوم او هم دمور او پلار لپاره څومره مصیبتونه رامېنځ ته کوي .
دغه راز باید دماشومانو په سمه روزنه دمور اوپلار دپوهاوي په موخه بېلابېلي راډیویي او ټلویزیوني پروګرامونه او فلمونه جوړسي، دماشومانو دروزني، ارواپوهني او په ځانګړي ډول دماشوم داروپوهني په برخه کي دنړی دنامتو پوهانولخوا لیکل سوي آثار پښتوژبي ته وژباړل سي .
زموږ تاریخي کیسې دراډیویي او ټلویزیوني سریالونو په بڼه په ډېر ښکلي ډول او زړه راکښونکې بڼه او محتوی خپاره سي، تر څو زموږ لویان، ځوانان، تنکي ځوانان او ماشومان وطنپال وروزل سي اودخپل هیوادتاریخ، اتلان او خاینین وپېژني . اتلان ورته بېلګه او خاینین ورته عبرت وګرځي .
حکومت دي دهغو ټلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپانو او مجلو سره مرسته ورکړي، چي دملي یووالي او دماشومانو دسمي روزني په هکله خپروني کوي .
ددې لپاره کار او تبلیغ وسي، چي دډېرماشومان پیداکول، څومره ستونزي رامېنځ ته کولای سي او دډېروماشومانو سمه روزنه څومره ستونزمنه چاره ده .
خوددې ټولوکارونو په کولوسره هم باید داتوقع ونه کړو، چي په نژدې څوراتلونکو کلنو کي زموږ مېندي او پلرونه دماشوم په سم روزلو پوه سي اوزموږ ټول ماشومان به سم وروزل سي . دلته یوه ستونزه داهم ده، چي اکثراً مېندي او پلرونه په دې پوهېږي چي دماشومانو سره خشونت، وهل ټکول، پر ماشوم چیغي وهل، ماشوم ته په ټیټه سترګه کتل او توهینول، دماشومانو پر راتلونکې ډېره ناوړه اغېزه لري، خو لکه څنګه چي ددوی سره خپله هم په ماشومتوب کي خشونت سوی دی، نودوی نسي کولای ، چي ځان کنټرول کړي او خشونت ونه کړي . په سمه روزنه دپلرونو او مېندو دمتقاعد کولو لپاره باید ښځي ډېر کار وسي، یعني هم پدې هکله د مېندو او پلرونو، سیکالوژیستانو او په ځانګړې توګه دماشوم داروپوهانو، ټولنپوهانو، ښونکو او نورو اړوندوکسانو په ګډون ډېر راډیوئي او ټلویزیوني بحثونه جوړسي . کېدای سي د" سوپر نني" په نامه مستند ټلویزیوني خپروني پښتو ژبې ته وژباړل سي اودهري برخي دښودلو نه وروسته ئې بیا په هکله څېړنیز بحثونه هم وسي ، دغه ته ورته ټلویزیوني افغاني فلمونه هم جوړسي، تر څودافغانستان دشرایطو سره سم، دماشومانو دروزني مسئله و څېړي، داطلاعاتو او کلتور وزارت دي دټولو ټلویزیوني او راډیویي چینلونو سره خبری وکړي، چي هره ورځ اویا یوه ورځ تر مېنځ دي یویا دوه ساعته دماشومانو دسمي روزني په خاطر خپروني وکړي .
پښتو ژبې ته دي دماشومانو دسالمي روزني په هکله دنړی دنامتو پوهانو او دماشوم داروپوهني دمتخصصینولخه زیګموند فروئيد او نورو لخوا لیکل سوي کتابونه و ژباړل سي.
دسیکالوژی یو مجله دي هم خپره سي، چي په هغه کي دماشوم دروزني او اروپوهني په برخه کي نوي علمي او څېړنیزي مقالې، چي تازه خپرې سوي وي، پر خپل وخت اوپه مسلسل ډول پښتو ژبې ته راوژباړل او په عملي ژوند کي دهغو نه دګټي اخستني په برخه کي تدابیر ورته ونیول سي .
دماشومانو دسمي روزني دستراتېژی دپلي کولو په برخه کي باید ډېر لوی رول ملایانو او دجوماتونو ملا امامانو ته ورکړل سي.
زه اصلاً په دې باوریم،چي په ټولو اصلاحي پروګرامونو کي باید دملایانو او دیني علماوؤ همکاری ته ډېره پاملرنه وسي.
زه په دې باوریم، که پورته یادسوي تدابیر په سم او جدي ډول پلي سي، نوموږ کولای سو په راتلونکو ۱۰-۵ کلنو کي دهغه ډېرمثبت علایم احساس کړو او په ۲۰-۱۵ کلنو کي به هغه سم دلیدو وړوي او په ۴۰-۲۵ کلنو کي به مودغه ستره ستونزه ښځي د ریښي نه حل کړې وي اوپه راتلونکي کي به بیا هیڅکله هم دبې اتفاقی څخه نه ځوربېږو، بهرنیان به زموږ په کورنیو چارو کي لاسوهني نسي کولای، نور به هیڅ جنګ جګړې نه وي، هیواد به مو پرمخ تللی او سمسور وي . کېدای سي دځیني کسانو لپاره ۴۰-۲۵ کاله ډېر وخت وي او ووایي چي هغه وخت به زه هم نه یم . نوددې په ځواب کي باید ووایم، چي موږ باید دا خودخواهي دځان نه لیري کړو، چي هرڅه دځان لپاره وغواړو او دراتلونکو نسلونو په غم کي ونه اوسو . که چېري زموږ پلرونو او نیکونو دغو ستونزو ته پاملرنه کړې وای، نو نن به موږ دغه حالت نه لرلای، چي هرڅوک کولای سي موږ په خپله ګټه استعمال کړي .
خودپورته یادسوؤ کارونو نه مخکي اړینه ده چي :


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۱-دافغانستان نخبه ګان، دمدني ټولني غړي، سیاسي ګوندونه او دولت په ټولیزډول په دې هکله اجماع ته سره ورسېږي، چې دافغانانو تر ټولو ستره او اساسي ستونزه ددوی ترمېنځ بې اتفاقي ده او دغه ستونزه باید په ممکنه لږه موده کې په هر څومره لګښت او زیار سره، چې وي، له مېنځه یووړل سي .
۲-دافغانستان او سیمي دڅېړنو مرکز او دعلومو اکاډمی نوري اړوندي څانګي اویاددغه کار لپاره جوړه سوې اداره دي يې په هکله دکورنیو او بهرنیو پوهانو په راجلبولو سره پراخي علمي څېړني پيل کړي او په دې اړه دي علمي ـ څېړنیز سیمینارونه او سپوزیمونه جوړ کړي او ددغه سیمینارونو او سمپوزیمونو څېړنیز آثار او نور لیکل سوي او ژباړل سوي آثار دي په دومره شمېر چاپ سي، چې دافغانستان په دننه کي ګوټ ګوټ او دافغانستان بهرمېشتو ټولو افغانانو لاسونو ته ورسېږي .
۳-دافغانستان او سیمه ایزو څېړونو مرکز (یاددغه کار لپاره جوړه سوې اداره دي) ددې علمي سیمینارونو، سمپوزیمونو او علمي ـ څېړنو پر بنسټ، په دې هکله ملي ستراتېژي جوړه کړي او دافغانستان حکومت ته دي يې وړاندي کړي .
۴-دغه ملي ستراتېژي دي دحکومت او پارلمان لخواتصویب اوددغه کار لپاره دي اړیني مالي سرچېني په بودجه کې په نظر کي ورته ونیول سي .
درنو لوستونکو !
ددغې لیکني نه زما اصلي هدف دادی چي افغان روښانفکران ددغې حیاتي ستونزي ( بې اتفاقی ) دلیري کلو په خاطر دنظریاتو شریکولو ته راوبلم . زه ددې ادعا نه لرم، چي زما دغه نظر یوازنی سم نظر دی . زما هیله داده، چی ټول افغانان په ځانګړې توګه افغان روښانفکران په دې هکله فکر وکړي، دهغه دسمولو لپاره خپلي طرحي، وړاندیزونه او نسخې وړاندي کړي او پټه خوله پاته نسي . زه په دې باوریم چي موږ دپېړیو راهیسي دبې اتفاقی په وژونکې ناروغی اخته یو . دغه ناروغي دخودخواهی دتباه کونکی ویروس په واسطه زموږ بدن ته ننوتې ده . دغه ویروس داسي دوانه لري، چي په یو وار خوړلو سره دي هغه موږ جوړ او دغه ویروس له مېنځه یوسي او نه هم داسي چف اوجادو سته، چي هغه دي په یو ځل موږروغ کړي . ددغه ویروس دله مېنځه وړولو لپاره موږ ډېر وخت تدوای، غذا اوپرهېز، سپورټ، دمغزو دغښتلي کولودرملو (کتابونو ) ته اړتیا لرو .
ددغي ناروغی نه موږ کرار کرار صحت پیداکولای سو او دا پروسه به په دې اړه ولري، چي موږ په څومره مؤثره توګه دویروس ضد درمل (دماشومانو دسمي روزني لاري چاري ) استعمال کړي دي، څومره پرهېز مو کړی دی، څومره سپورټ مو کړی دی او څومره مو خپل ځان او په ځانګړي ډول خپل ماغزه غښتلي کړي دي . که دا هرڅه مو سم وکړه، نو به نسبتاً په لږ وخت کي جوړ سو او که مو داهر څه په ډېره ښه توګه تر سره نه کړل، بلکي نیمګړتیاوي پکښې وې، نو جوړېدل به موهم ډېر وخت په بر کي ونیسي خو که مو هیڅ پاملرنه ورته ونه کړه، نو هیڅ کله به هم جوړ نه سو او آن ددې خطر هم سته چي دغه وژونکې ناروغي موږ له مېنځه یوسي . خطر په رېښتیا ډېر جدي دی .
اوس ددې لپاره له بل هر وخت نه امکانات ډېر دي، چي ددغې ناروغی نه ځان خلاص کړو. دا د دارو درملو لپاره، دغذا او پرهېز او سپورټ لپاره او همداراز د وجود اوماغزو دغښتلي کولو لپاره نسبتاً کافي امکانات پیداکولای سو او ددې شرایط پیداسوي دي، چي یوڅوک موټر لاس مو ونیسي ډاکټر ته مو بوزي، خواړه راکي، سپورټ راباندي وکړي او دغذا او پرهېز لپاره هم امکانات را چمتوکړي . خوموږ باید ددغي ناروغی نه دروغتیا لپاره ټینګه اراده او په دې هکله اجماع ولرو .
دبې اتفاقی دله مېنځه وړلو په اړوند به دسیاسي ګوندونو، مدني ټولنو او دولت تر مېنځ اجماع په اسانی سره رامېنځ ته سي، ځکه چي هم سیاسي ګوندونه، هم مدني ټولني او هم دولت دبې اتفاقی نه سخت زیانمن سوي دي .
دسالمي روزني په ستراتېژي کي بایدلاندي هدفونه داصلي موخو په توګه په نظرکي ونیول سي :
۱- دبې اتفاقی داصلي لامل په توګه دخودخواهی له مېنځه وړل .
۲- دخشونت دټولو ډولونو یاني دماشومانو په وړاندي خشونت، دمېرمنو په وړاندي خشونت، دحیوانانو او مارغانو په وړاندي خشونت، دطبعت په وړاندي خشونت اونور له مېنځه وړل .
۳- پر احساساتو دعقلانیت غلبه .
۴- دې پاملرنه، چي کوچنیان فکرکونکي رالوی سي .
هر څوک دا ګیلې کوي، چي موږ ښه مشر نلرو . څوک خدای ( ج ) ته زاری کوي، چي موږ ته ښه مشر راکه، څوک په شعرونو او سندرو کي ښه مشر غواړي . خو موږ هیڅکله همدا پوښتنه دځان نه نه کوؤ، موږ ولي ښه مشر اویاښه مشران نه لرو؟ خدای ولي ټولي نړی ته ښه مشران ورکړي دي، خوموږ ته ئې نه راکوي ؟ یا داپوښتنه ولي نه کوؤ، چي کېدای سي موږ ښه مشران لرو، خو زموږ خودخواهي موږ ته دا اجازه نه راکوي، چي هغه یا هغوی دمشرانو په توګه ومنو، ځکه چي زموږ لپاره خوښه یوازي موږ هر یو یو، نو بل هیڅ څوک ښه نسته .
وګورئ نورو قومونو ته ! آیا مزاري، خلیلي، محقق اویا احمد شاه مسعود، رباني، فهیم، عبدالله ، قانوني، دوستم او نور تر حمیدکرزي، اشرف غني احمد زی، انورالحق احدي، حضرت عمر زاخېل وال، جاوید لودین او نورو ښه دي ؟ دغه پښتانه مشران دپوهي، علمیت او وطنپالني له مخي دنورو ټولو مخکي یاد سوؤ هزاره، تاجک او اُزبک مشرانو نه ښه او وړکسان دي .
خودپښتنو مشرانو ستونزه داده، چي پښتانه نخبه ګان خودخواه دي او یوازي خپلي شخصي ګټي ورته ډېري مهمي دي، ځکه نو هغو ته دمنلو وړ نه دي . که څوک وایي، چي دنورو قومونو مشران ښه خلګ دي اوزموږ دا نه، نوداسمه خبره نده .
زه په دې متیقین یم که نن احمد شاه بابا او میرویس نیکه هم راژوندي سي، بیا به هم زموږ دخودخواهو نخبه ګانو لپاره دمنلو وړ نه وي . ځکه نو خبره دښومشرانو نده .
زما هیله داده، چي راځئ پر دې او هغه انتقادونه پرېږدو، بلکي په دې هکله یوې اجماع ته ورسېږو، چي څنګه کولای سو دغه لویه ستونزه لېري کړو؟
ماددغي ستونزي دحل لپاره خپله طرحه ګرانو لوستونکو ته وړاندي کړه، نو تاسي کولای سئ ددغي طرحي په وړاندي بله بدیله طرحه وړاندي کړئ، یا هم په همدې کي یوشمېر سموني راولئ او یا هم که چېري ډېرو لویوسمونو ته اړتیا نه وي، پر هغه یوه


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

توافق ته سره ورسیږو . که چیري ددغي ستونزي دحل دیوې طرحي په هکله توافق ته سره ورسېدو بیا به ئې نو دپلي کولو لپاره امکانات هم ډېر وي.

دیو موټي، پرمختللي، سمسور او غښتلي افغانستان په هیله

په مینه او درناوي

زکریا پوپل
هالنډ
z.popal58@gmail.com
0031(0)624795683



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ